## مطبوعاتي اعلاميه

### د اردن حکومت یو ځل بیا اسلامي امت پر زړه په خنجر وواهه او د پیسو نړوال صندوق غوښتنو ته د هرکلي او د هغه استعماري پالیسیو ته د تسلیم لپاره یې د عایداتي مالیاتو مسوده لاسلیک کړه



(ژباړه)

امت هېڅکله دا فکر نه کاوه چې د اردن حکومت به په خپل لاس کې د شته وسایلو له لارې لکه، د دولت ګوډاګیان، پارلمان او هغه کسان چې د رژیم کړنې ستایي، د عایداتي مالیاتو د اصلاح شوې لایحې د تصویب لپاره پاتې راشي. نو د دې لایحې تصویب د دغه دولت په ړنګېدو او د نوي دولت په راوستو کې هېڅ اغېز نه لري. همدارنګه دا حکومت د دغه قانون د تصویب لپاره د خپلو یو شمېر محدودو مرستیالانو په تشویق او د رشوت په ورکولو سره ناکام نه شو او حکومت ته دا هم کوم توپیر نه لري، چې د خپلو رشوت خورو مرستیالانو د آبرو ساتلو په موخه  په ځینو اصلاحاتو د دغه قانون د ناوړې څېرې د ښکلي کولو له امله خجالت وباسي. په اصل کې دا ټولې کړنې د پیسو نړیوال صندوق او د کفر استعماري وسایلو ته د پیروۍ او غلامۍ لپاره وشوې. له بده مرغه د مالیاتو قانون په هېواد کې د اقتصادی وضعیت د ښه والي لپاره تصویب نه شو، بلکې د دې لپاره چې د کسر ورکولو لپاره د «وام» د اندازې زیاتوالي ته اجازه ورکړي او دا د امت د وینو د حرکت د نبض د ډېرېدو لامل کېږي، پرته له دې چې د دا ډول بدمرغیو د زیاتوالي پر وړاندې دې هیله مندي وشي.

نو د هغو اساسي قانون او سیکولریستي قوانینو د پلي کولو لپاره چې د الله سبحانه وتعالی د نازل کړي حکم سره په ټکر کې دي، یو لړ هغه پردي افکار را لېږدوي لکه، د الله سبحانه وتعالی له اوامرو څخه سرغړونه، له ژوند څخه د دین بېلوالی، د هغو ارګانونو او موسسو راتګ ته اجازه ورکول چې په عمل او خبرو سره د الله سبحانه وتعالی د دین مخالفت کوي او هغه فساد او ناوړه اعمال ترسره کول چې د الله سبحانه وتعالی او امت د قهر لامل ګرځي. د دغو ناورینونو تجربه هغه که اقتصادي، سیاسي، امنیتي، اداري او خدماتي وي یا بل هر ډول چې وي، د اردن پر عامو خلکو یې ور تپي او  په دې سره وضعیت ورځ تر بلې ترینګلی کېږي. که د اردن حکومت او چارواکي په سرټیټې کفارو ته تسلیم او تابع شوي نه وی، د اردن خلک به له دا ډول ناوړه حالاتو سره نه مخ کېدل. دا

هغه پلورل شوي چاواکي دي چې د دوی په واسطه تر اوسه هېواد استعمارېږي او د غرب لخوا د خدمت او د امت د سرچینو د لوټلو په موخه د اجنډا د عملي کولو او د اسلامي ژوند د بیا راوستو پر وړاندې د خنډ کېدو لپاره گومارل شوي دي. همدارنگه زموږ پوځونه په هغه جگړه کې سمبالوي چې د تروریزم، تاوتریخوالي او سخت دریځۍ تر نامه لاندې د اسلام پر وړاندې روانه ده.

**اې مسلمانانو!** تاسو د عایداتي مالیاتو د سقوط لپاره لاریونونه وکړل، خو د اردن دولت پارلمان ته لایحه وړاندې کړه؛ په داسې حال کې چې تېر حکومت سقوط کړی او د مالیاتو قانون د نوي حکومت په واسطه تصویب شوی دی. همدارنگه غواړي څو د الکترونیکي جنایتونو ناعادلانه قانون هم تصویب کړي او رژیم خپل واک ته په داسې حال کې دوام ورکوي چې اسلام او د هغه پلي کېدونکي احکام یې له پامه غورځولي دي. دا حکومت ستاسو ناورینونه او ناخوالې له پامه غورځوي او ستاسو له دښمنانو سره ستاسو پر وړاندې درېږي، ځکه هغو ته تابع دی او غوښتنو ته یې هرکلی او احترام کوي، چې په پایله کې به د اردن د پرېمانه زېربنایي سرچینو د له منځه تلو، د فساد د ډېرښت او د اقتصاد د رالوېدو لامل شي. په داسې حال کې چې تاسو د اردن خلک د راډیکالي اساسي بدلونونو په واسطه غولول شوي یئ؛ نو د څه شي په لټه کې یئ او څه ته گورئ؟

**اې د اردن مبارزو خلکو!** یوه شئ چې الله سبحانه وتعالی په قرآن کریم کې فرمایي:

**﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾** [نور: ٦٣]

***ژباړه:*** *هغه کسان چې د هغه سبحانه وتعالی له امر سره مخالفت کوي، باید له دې وډار شي چې هغه بلا (د کړو گناهونو په اندازه) به یې تر ستونې ونیسي یا دا چې له دردوونکي عذاب سره به مخ شي (د قحطی، زلزلې او نورو دنیوي غمونو ترڅنگ له دوزخ او نورو اخروي شکنجو سره).*

نو موږ حزب التحریر د الله سبحانه وتعالی وعید تاسو ته بیان کړ، چې پند واخلئ او د سابقونو له ډلې څخه شئ او یوه شئ چې د الله سبحانه وتعالی ژمنه حق ده. نو له همدې امله حزب التحریر په پوره اخلاص سره پر تاسو غږ کوي چې لومړی مو خبرې او کړه وړه الله سبحانه وتعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته تر اسلامي هویت لاندې د هدایت په لاره کې سم کړئ او حکومت د اسلام پر اساس محاسبه کړئ. په دې اساس به موږ یو ځل بیا د دغه راشده امت هغه برخه شو، چې د تېرو ټولو امتونو په پرتله د «امر بالمعروف او نهی عن المنکر» په ترسره کولو سره غوره دی.

**﴿وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللهِ حُكْماً لِقَوْمٍ يُوْقِنُونَ﴾** [مائده: ٥٠]

***ژباړه:*** *د باورمنو کسانو لپاره څوک له الله سبحانه وتعالی څخه غوره حکم کوي؟*

**د حزب التحریر-ولایه اردن مطبوعاتي دفتر**

**د صدور گڼه: ۱۴۴۰/ ۰۸**

**۱۴۴۰هـ.ق، د ربیع الاول ۱۱مه**

**۲۰۱۸م، د نومبر ۱۹مه**